# د ناروغپالو (پرستارانو) لپاره لارښوونه

## I. عمومیات

د ناروغپالنی (سرپرستی) دندی په غاړه اخیستلو سره تاسو یو مهم مدنی مسئولیت پوره کوی. تاسو یو په خپله خوښه افتخاری مسئولیت په غاړه اخلی او هغه باید په صداقت، دقت او یوازی د مراقبت او ناروغتیا پالنی لاندی کس د رفاه او ګټی په خاطر اجرا او سرته ورسوی.

د ناروغتیا پالنی حقوقو په اړوند د قانونی مقررات په باب د مدنی قوانینو کتاب د ۱۹۰۹ څخه تر ۱۹۲۱ مادو کښی توضیحات او معلومات ورکړ شویدی.

د سرپرستی حقوقو په باب معتبر او جاری قوانین د مدنی قوانینو کتاب د ۱۷۷۳ مادی څخه تر ۱۸۹۵ مادو کښی پیداکولی او کتلای شی. سپارښتنه کیږی چه ددی مقرراتو سره ځان اشنا او بلد کړی.

د فامیلی چارو محکمه ستاسو د کار او فعالیت څخه څارنه کوی او همدارنګه ستاسو په دنده پوری اړونده پوښتنو کی تاسو ته مشوره درکوی.

د فامیلی چارو محکمی په غوښتنه باید تاسو هر وخت د خپلی دندی د اجرآتو په باب محکمی ته معلومات ورکړی.

تاسو د مراقبت او ناروغتیا پالنی لاندی ښځینه / نارینه کس په وړاندی د ګناه څخه ډک چلند او سرغړونی له امله د مینځ ته راغلی تاوان او ضرر لپاره مسئول یاست، تر ټولو دمخه که چیری تاسو په غیری قانونی توګه د مراقبت او ناروغتیا پالنی لاندی ښځینه / نارینه کس د نفقی او نورو شیانو غوښتنی او ادعاګانی اجرا او سرته ورسوی. تاسو کولی شئ چه ددی خطر په وړاندی خپل ځان بیمه کړئ - نور زیات معلومات د فامیلی چارو مسئولی محکمی څخه لاسته راوړلی شئ.

د ناروغتیا پالنی او مراقبت لاندی کس پیسی په ګټه کولو (سود) سره پسانداز (په بانک یا بل ځای کښی) او سرمایه ګذاری کړی، که چیری د موجودو او روانو لګښتونو لپاره ورته ضرورت نه وی. په اساسی ډول یوه باوری رسمی شپارکسه (بانک) او یا د کریدت په یوه بل انستیتوت کښی چه د سرمایه ګذاری لپاره په کافی اندازه داډه موسسو پوری اړه ولری او یا د ناروغتیا پالنی لاندی کس لپاره یو بل مطمئن او داډه رهن (ضمانت) او یا ارزښتناکه او قیمتی کاغذونه د بندیز په یادداشت سره (د محکمی اجازی ته ضرورت لری) د مراقبت لاندی کس لپاره د پیسو اچول (سرمایه ګذاری کول) په نظر کښی نیول کیدلی شی. محکمه کولی شی چه په یوه بل ځای کښی د سرمایه ګذاری او پیسو اچولو، د مثال په توګه په یوه مناسب شخصی کریدت انستیوت کښی اجازه ورکړی.

## II. يوازې د نفقې پالنې په صورت کښې

**په خاصه توګه بايد تاسو لاندې شيانو ته پاملرنه وکړئ:**

۱. ستاسو وظيفه ده چه په لومړي قدم کښې ددې غم وخورې چه د نفقې مسئول پلار او مور د خپل ماشوم د نفقې خرڅ ورکړي. په لومړي وار د هغوى څخه په ليکلې توګه غوښتنه وکړئ. د نفقې حقوق د مدني قوانينو کتاب د ۱۶۰۱ مادې څخه تر ۱۶۱۵ مادو کښې تنظيم شويدي. نفقه د محتاج ماشوم د ژوند وضيعت له مخې ټاکل او اټکل کيږي او اساساً پکښې د ژوند ټولې اړتياوې، دروزنې او حرفوي زده کړو ټول لګښتونه پکې شامل وي. په قانونې توګه کومه معينه او ټاکلې اندازه نده ليکل شوې. په ورکولو مسئوليت درلودونکې پلار يا مور بيا هم د نفقې ورکولو مسئوليت لري که څه هم چه د هغوى خپله مناسبه نفقه د هغې پواسطه اخلال او زيانمنه کيږي. که چيرې داسې وي نو بيا دې په دې صورت کښې هغوى په خپل اختيار کښې ټول امکانات د خپل ځان او ماشوم د نفقې لپاره په مساوي اندازه استعمال کړي. په دې صورت د نفقې ورکولو مقدار او اندازه د هغوى په عايد پورې اړه لري.

۲. د نفقې په موښه ټولې راغلې پيسې بايد يوازې د ناروغتيا پالنې او مراقبت لاندې کس لپاره په مصرف ورسيږي.

۳. که چيرې په نفقه ورکولو مکلف پلار يا مور په خپله خوښه پيسې (نفقه) ورنه کړي، په دې صورت کې تاسې مجبور ياست چه د اخطاريه ليک څخه وروسته د ناروغتيا پالنې لاندې کس په نماينده ګې او نوم د محکمې له ليلارې د نفقې ادعا او غوښتنه عملي او ور څخه ئې واخلئ. د خپل هدف د لاس ته راوړلو په موښه د نژدې او لا زياتو معلوماتو د لاسته راوړلو په خاطر د ځوانانو ادارې او يا آبتدائيه محکمې ته مراجعه وکړئ، ليکن هغوى تاسو د حقوقې مشورې درکولو اجازه نلري.

## III. يواځې د غيابت د ګروېږنې په صورت کې

ووشډ لکاټ د اوخڅ Betreuungsgericht ېمکحم د ېنړېورګ د هب ېساتډ رټ وا ،ئوک هنړېورګ وناګعوضوم ودنوړا ىنمتښ د سک بیاغ د هنډ د ولوپ د سک دوجوماڼ د ،يوکرد هزاجا بوتنمکاو ېساتسډ ېچ ېروپ هیاځ هموک .ئرل قح تلاکو

که چېرته وروسته د غايب کس پته ولګيږي او يا غايب کس مري، نو په هغه صورت کې به سمدلاسه د ګروېږنې محکمې ته خبر ورکوئ.

## IV. گوربېړنې پای ته رسېدنه

**ستاسې دنده پای ته رسيږي**

الف) د کورنيو د محکمې لخوا د گروېږنې بندونه او يا د گروېړنې د محکمې لخوا د غيابت د گروېړنې بندونه، وړاندې

ب) د داسې يوه کس د گروېړنې په صورت کې چې موراوپلار يې پالنه کوي او يا وصی ولري، د مور او پلار د پالنې او وصيتوب له پای ته رسېدنې سره،

پ) د نه زيږدلي ماشوم د گروېړنې په صورت کې د هغه له زيږېدلو سره،

ت) په ځانگړو حالتونو کې د گروېړنې په صورت کې، د هغه حالت له سرته رسېدلو سره،

ث) د يوه غايب کس د گروېړنې په صورت کې، د هغه د مړينې د پرېکړې د قانونيت او يا د هغه د مرگ د وخت له ټاکلو سره.